# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۸مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۷مه | ۶۶۴مه گڼه


# د امریکا خوندیتوب او د جگړې اوج؛

## امریکايي ځواکونه په ډاډمنه فضا کې وتلي، طالبانو پرې خوښي څرگنده کړې



۳

### که پاتې امريکايي ځواکونه هم په ټاکلي وخت کې وځي!؟

۲ مخ

### د افغانستان د سولې پروسې په اړه سیمه‌ییز لیدلوری

۲ مخ

### فواید نوشیدن آب چیست و میزان لازم آن برای بدن چقدر است؟

۳ مخ

## باجوه: افغان سوله پر پاکستان مستقيم اغېز لري، د خبرو ملاتړ ته دوام ورکوو

د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر جاوید باجوه ویلي، چې هېواد به یې په دوحه کې د روانو بین الافغاني مذاکراتو ملاتړ ته دوام ورکړي.

هغه زیاته کړې، په افغانستان کې امن او سوله پر پاکستان مستقیم اغېز لري او دوی د افغان سولې هر اړخیز ملاتړ ته ژمن دي.

نوموړي ویلي، چې پاکستان تل د خبرو له لارې د افغان شخړې پر پای ته رسېدو ټینگار کړی او بیا هم وایي، چې افغان جگړه نظامي حللاره نه لري. اسلام اباد ته د افغان چارواکو تر پرله‌پسې سفرونو وروسته پاکستان په بیا بیا د افغان سولې پروسې د بشپړ ملاتړ ژمنې کوي، خو څېړونکي بیا د پاکستاني چارواکو دا څرگندونې له حقیقته لرې بولي او ټینگار کوي چې که پاکستان ریښتینی وي، نو باید په دې برخه کې کوټلي او اغېزمن گامونه پورته کړي.

بلخوا د افغانستان لپاره د پاکستان سفیر منصور احمد خان هم ویلي چې اسلام اباد د افغان سولې روانې د پروسې د بریالیتوب او سیاسي حل لپاره د افغان حکومت له مشرتابه نیولې، تر بېلابېلو مهمو سیاستوالو او طالبانو پورې له ټولو سره په اړیکه کې دی.

نوموړي زیاته کړې، هېواد یې د افغان سولې په مذاکراتو کې رغنده رول لوبولی دی. منصور احمد خان ویلي، اسلام اباد ته د طالبانو د مذاکراتي پلاوي د وروستي سفر پر مهال هم تر ډېره پر سولې خبرې وشوې او پاکستان په صادقانه توگه طالبان قانع کړل او دوی ته یې څرگند پیغام ورساوه چې روانه جگړه پوځي حل نه لري.

## ولسي جرگې د رایو په اکثریت د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه بیا رد کړه



۵ مخ

پوهنتون

۴ مخ

## ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسه

يادې موسسې د خپلو محصلينو د ورتيا لوړولو په موخه، تر ډېره ماستر او دوكتورا لرونكي استادان گومارلي، څو په ښه ډول محصلينو ته تدريس وكړي.



## سوداگرۍ وزارت: د افغانستان زعفرانو د ښه کیفیت له کبله په نړۍ کې لومړی مقام گټلی



د صنعت او سوداگرۍ وزارت وايي چې د افغانستان زعفرانو د ښه کیفیت له کبله د نړۍ په کچه لومړی مقام گټلی دی.

د دغه وزارت چارواکي وايي چې د اروپايي ټولنې د خوراکي توکو د خوندیتوب نړیوال انستیتیوت د افغانستان زعفرانو ته د خوند درې زرین ستوري یانې لومړی مقام ورکړی دی.

د یاد وزارت ویاند فواد احمدي وايي: «د افغانستان په استازیتوب یو خصوصي شرکت دغه جایزه ترلاسه کړې ده. افغانستان ته دغه مقام گټل به د زعفرانو د کښت، پروسس او د صادراتو د ډېرښت او د کیفیت لوړوالي سبب شي.»

دا درېیم ځل دی چې د افغانستان زعفران د اروپايي ټولنې له خوا په نړۍ کې د تر ټولو لوړ کیفیته زعفرانو جایزه گټي.

احمدي زیاتوي چې د اروپايي ټولنې په دې سیالۍ کې گټونکی هېواد د زعفرانو د رنگ، خوند او کیفیت پر بنسټ ټاکل کېږي.

## وزارت صحت عامه: تعداد مبتلایان ویروس کرونا در کشور به ۵۳۹۸۱ تن افزایش یافته است



وزارت صحت عامه، از ثبت ٤٦ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که این تعداد واقعه، در نُه ولایت کشور به ثبت رسیده است.

وزارت صحت عامه می‌گوید که در یک شبانه روز گذشته، آزمایش کرونای ۱۳٤۱ تن انجام شده، که نتیجهٔ آزمایش ٤٦ تن شان مثبت می‌باشد.

منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ۵۳۹۸۱ تن افزایش یافته است. در خبرنامهٔ این وزارت آمده است که ۱۱ تن در هرات، ۹ در سرپل، ٦-٦ در کابل، کندهار، نیمروز، ٤ در خوست، ۲ در پکتیکا و ۱-۱ تن هم در ولایات پکتیا و پنجشیر به ویروس کرونا مصاب شده اند.

براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۳۱ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتههای این بیماری، به ٤٥٤٦٥ تن می‌رسد.

همچنان وزارت صحت گفته است که در ۲٤ ساعت گذشته، ۳ تن به اثر ابتلا به (کوید-۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۲۳۳۹ نفر رسیده است.


همچنان، وزارت صحت عامه افغانستان، درپی ثبت واقعات ویروس «جهش یافتهٔ کرونا» در برخی کشورها، از مردم می‌خواهد تا کمتر سفر نمایند و درصورت مشاهده اعراض وعلایم، خود را قرنطین کنند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### که پاتې امریکایي ځواکونه هم په ټاکلي وخت کې وځي!؟

د رسمي شمېرو له مخې اوس په افغانستان کې ۲۵۰۰ امریکايي ځواکونه شته چې دا له ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو تر ټولو ټیټه شمېره ده. امریکايي چارواکو پخوا ویلي وو چې خپل ځواکونه کموي او له طالبانو سره د کړې ژمنې پر اساس یې باید پاتې نور ځواکونه هم په څه کمو څلورو میاشتو کې له افغانستان څخه ووځي. له دې سره همهاله د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب وايي؛ طالبان په خبرو وخت ضایع کوي او په زور واک ته د رسېدو نیت لري. نوموړي په یوه مرکه کې ویلي، چې طالبان له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو ته شېبې شماري او غواړي چې په زور حکومت ونیسي. محب ویلي چې که د سولې خبرې ناکامې شي، دولت له طالبانو سره جګړې ته چمتو دی.

که ټول امریکايي ځواکونه په همدې ټاکلي وخت کې وځي، نو څه به پېښېږي؟ ایا د حکومت تیاری او دریځ سم دی؟

که امریکايي ځواکونه وځي او په دې موده کې بین الافغاني خبرې نه وي بریالۍ شوې، نو نه یوازې دا چې د سولې خبرې به کمزورې او ان ښايي ناکامې شي، بلکې سختې جګړې به وشي او د دې وېره جدي ده چې لوی ښارونه او ان کابل هم ښايي سقوط شي. که ښارونه سقوط هم نه شي، تر اوسني حالت به لا زیات ناوړه، پېچلی او خونړی حالت وي او افغانان به یوې بلې کورنۍ جګړې ته لوېدلي وي. له همدې امله دا وېره جدي چې که د امریکايي ځواکونو تر وتلو وړاندې بین الافغاني توافق ونه شي، افغانستان او افغانان به ستر تاوان وکړي.

تر اوسه د امریکايي ځواکونو د وتلو څرنګوالي ته په کتو سره ښکاري چې پاتې امریکايي ځواکونه به هم وځي او که ځنډ هم پکې راشي، دا به د دوو- دریو میاشتو ځنډ وي. له همدې امله پکار ده چې سر له اوسه تیاری ونیول شي. حمدالله محب ویلي، طالبان فکر کوي چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به دوی ته په زور د حکومت نیولو موقع تر لاسه شي، خو موږ له طالبانو سره جګړې ته تیار یو. د حمدالله محب له خبرو او د حکومت له عملي کړنو ښکاري چې ښايي د حکومت تیاري همداسې یو جګړهییز حالت ته وي. له بله اړخه طالبان هم پر جګړه ټینګار کوي، نو د دې مانا همدا ده چې د سولې خبرې نه بریالۍ کېږي او سخته خونړۍ جګړه پیلېدونکې ده.

دا چې د سولې پر ځای جګړې ته تیاری روان دی، دا رښتیا هم د اندېښنې وړ ده. که څوک رښتیا هم پر افغانانو رحم ولري او د افغانانو وینې ورته ارزښت ولري، نو د جګړې پر ځای یې اصلي تمرکز باید پر سوله وي. د سولې په خبرو کې پر هغو مسایلو ټینګار چې د جوړجاړي مخه نیسي، د جنګغوښتنې مانا لري. هر څوک چې داسې شرایط وړاندې کوي چې هغه د سولې مخه ونیسي، په واقعیت کې دوی د افغانستان د راتلونکې فاجعې مسوولین دي. له اسلام او افغانستان پرته د جمهوریت، امارت او بل هر څه په ګډون هېڅ داسې څه نشته چې باید پرې خبرې ونه شي او مات نه شي. هغه فاجعه چې د سولې د خبرو له ناکامۍ وروسته موږ ورسره مخ کېدونکي یو، پر دې ارزي چې جمهوریت، امارت او نورې داسې بشري مفکورې او ارزښتونه ورته قرباني شي. موږ باید د وینو د یو لوی سیلاب مخه ونیسو او دا د هر مسوول افغان او مسلمان دنده ده. که څوک فکر کوي چې دوی به خنډ جوړوي او که کیسه خرابه شي، نو بیا به خپلو اصلي هېوادونو ته تښتي، نو تېروتنه کوي، ځکه چې هم د تښتې لاره بندېدلی شي او هم په هر ځای کې د خلکو له حساب کتاب خوندي نه شي پاتې کېدلی.

# د افغانستان د سولې پروسې په اړه سیمهییز لیدلوری

علي احمد جلالي

د مرکزي او سویلي آسیا د سیمې په اړه د افغانستان انګېرنې له ډېرې هیلې، بې باورۍ او شک سره مخ شوې دي. د افغانستان راتلونکې له خپلو ګاونډیو، نورو سیمه ییزو لوبغاړو او لویو قدرتونو سره په مثبته او رغنده تعامل پورې اړه لري، چې د دوی مستقیمې او غیر مستقیمې ښکېلتیا د افغانستان د اوسني وضعیت بڼه بدله کړې ده. په هر صورت، د سیمه ییزو لوبغاړو زیاتوالی چې ځینې یې له یو بل سره په سیالۍ کې دي، په هیواد کې د سولې او شخړې مسئلې پیچلې کولو ته دوام ورکوي. د لویو قدرتونو د سیالۍ او له افغانستان سره د دوه اړخیزو اړیکو پر سر د دربیمو ځواکونو اغیزه په سیمه کې سیاسي ډینامېزم نور هم سختوي.

لوی قدرتونه او سیمه ییز لوبغاړي عموماً د افغانستان د شخړې په سیاسي حل کې مشترکې ګټې لري، ځکه چې دوی په افغانستان کې د سولې او ثبات راتګ د سیمه ییز ثبات او پرمختګ لپاره اړین بولي. په هیواد کې د تاوتریخوالي او افراطي ډلو رامنځته کېدل، لکه داعش چې سیمې او ورهاخوا هېوادونو ته جدي ګواښ ګڼل کېږي، د افغانانو تر مینځ د مستقیمو خبرو اترو له لارې د افغان شخړې د حل کولو لپاره د سیمه ییزې او نړیوالې همکارۍ لپاره نوې اړتیاوې رامنځته کوي، خو بیا هم بېلابېل هیوادونه د خپلو امنیتي او سیاسي ګټو له نظره، ننګونې مشروع ګڼي او یا په بل ډول ورته ګوري. د ځینو لوبغاړو ګټې اساسي دي، نور بیا فرصت طلبه دي او د کلونو په اوږدو کې د لویو قدرتونو په اړیکو کې د بدلون، په سیمه کې د امنیتي تحرکاتو، په افغانستان او شاوخوا کې د ستراتیژیکي ناځرګندتیا او په افغانستان کې د جنګي عملیاتو له امله پکې بدلون راغلی.

خو په افغانستان کې د شخړې پای ته رسولو لپاره لاهم یو کاري سیمه ییز حل نه دی را منځ ته شوی. په تېره لسیزه کې بې شمېره نړیوال کنفرانسونه تر سره شول، د همکارۍ ځو میکانېزمونه جوړ شول او په افغانستان کې د دوامداره تاوتریخوالي د ختمولو لپاره موجوده څو اړخیزې نقشې وکارول شوې؛ خو بیا هم ډېر څو اړخیز نوښتونه ناکام شول. د ملګرو ملتونو په مشرۍ یو څو اړخیز ډیپلوماټیک نوښت د لویې سیمه ییزې روغې جوړې په نوم چې سیمه ییزو سیالانو او ناامنیو ته د رسیدو تر څنګ له یاغیانو سره د روغې جوړې هڅه پکې کېده، لا تر نن پورې یې کوم څرک راپورته نشو.

پرته له دې چې له سیمې څخه له یو بل سره د یوځای کېدو تمه وشي او د افغانستان د بریالي کېدو لپاره کار وکړي، بالاخره به د اساسي ښکېلو لوبغاړو (جنګي اړخونو او د دوی اصلي ملاتړ کوونکو) سره په دوه اړخیزو نوښتونو کې یوه عملي حلاره وموندل شي او دا نوښت به نورو ښکېلو اړونده غاړو ته هم وغځول شي.

د سولې تړون چې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د قطر په دوحه کې د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۹مه لاسلیک شو، په افغانستان کې د لسیزو اوږدې شخړې په تاریخ کې یوه نوې پاڼه اړوي. د دوحې په تړون کې طالبانو تضمین وکړ، چې هیڅ ترهګرې ډلې ته به اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالاتو او د هغه د متحدینو پر ضد کار واخلي. طالبان به د ۱۴ میاشتو په ترڅ کې د متحده ایالاتو د دې ژمنې په بدل کې چې ټول ځواکونه به له افغانستان څخه وباسي، له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته حاضرېږي. په اصل کې د متحده ایالاتو پوځې وتنه د یوې وسیلې په توګه د دې لپاره کارول کېږي، چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېني او په افغانستان کې دوامداره سوله راشي. خو بیا هم نوموړې پروسه سیمه ییزې او نړیوالې اجماع ته اړتیا لري، څو د دغه نوښت له بشپړ پلي کولو څخه ملاتړ وشي. د افغانستان له کشالې سره د نورو سیمه ییزو او دوه اړخیزو شخړو د اړیکو پرې کول او د لویو قدرتونو له سیالۍ څخه د افغانستان لرې ساتل هغه مهم عوامل دي، چې کولی شي په سیمه کې د سولې پر هڅو باندې اغېزه وکړي.

### هغه هیوادونه چې په افغانستان کې ګټې لري

د افغانستان په امنیتي وضعیت کې اصلي برخه وال د شخړې ښکېل اړخونه او هغه هیوادونه دي، چې له دواړو خواو څخه ملاتړ کوي او هغه هیوادونه چې په سیمه کې د جګړې له امله اغېزمن شوي دي.

متحده ایالات او پاکستان دوه لوی لوبغاړي دي چې د افغانستان په وضعیت کې د پام وړ نفوذ لري. متحده ایالات په افغانستان کې د طالبانو له پرځولو وروسته، د دولت اصلي سپانسر او ملاتړ کوونکې دي. پاکستان د طالبانو مشرتابه ته چې د پاکستان په خاوره کې دننه له پټنځایونو څخه خپل بغاوت مخته وړي، زیربنایي او مادي ملاتړ چمتو کوي.

متحده ایالات په افغانستان کې د خپلې اوږدې جګړې پای ته رسېدو ته لیواله دي او په همهاله توګه غواړي چې افغانستان د یو باثبات دولت په توګه په داسې حال کې پرېږدي، چې بیاځلې د متحده ایالاتو د ګټو پر وړاندې د تروریستي حملو پر سرچینه وا نه وړي. د متحده ایالاتو حکومت هڅه کوي، چې د افغان دولت او طالبانو تر منځ د بریالي سیاسي جوړجاړي په ګډون، له طالبانو سره د سولې موافقې په پلي کولو سره دغه هدف تر لاسه کړي.

پاکستان د افغانستان په شخړه او سوله کې لوی لاس لري او د افغانستان په شخړه کې یو له خورا پیاوړو لوبغاړو څخه شمیرل کیږي. په افغانستان کې د پیاوړي نفوذ ساتل له ډېرې مودې راهیسې د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د پالیسۍ مهمه برخه وه. د هند له جیوپولیټیکي برلاسۍ سره د مقابلې لپاره او لوېدیځ لور ته د ستراتیژیکي عمق د غځولو لپاره د اسلام آباد هڅې له ۱۹۹۰ یمو کلونو راهیسې د دې تګلارې یو له اساسي اصولو څخه وې.

پاکستان له خپل سیاسي لرلید سره سم د افغانستان د وضعې له بدلولو څخه هیڅ ډول هڅه نه ده سپمولې. که څه هم پاکستان ممکن په افغانستان کې بشپړ واک ته د طالبانو بیرته راستنېدل ناممکن او نامطلوب ګڼي، خو پر دوی باندې د خپل کنټرول او نفوذ له لارې هڅه کوي چې په افغانستان کې خپلې سیمه ییزې جیوپولیټیکي ګټې خوندي وساتي. پاکستان د افغانستان د شخړې د سوله ییز حل ملاتړ په داسې توګه کوي، چې د دوی د ستراتیژیک امنیت او د سیاسي ګټو تضمین پکې وشي.

هند او ایران په سیمه کې دوه نور عمده لوبغاړي دي چې ګټې یې کله ناکله د پاکستان له ګټو سره ټکر کوي او هند، پاکستان د تاوتریخجنو افراطیانو د ملاتړ کوونکې په توګه پېژني، چې د هند پر وړاندې په ځانګړې توګه کشمیر کې یې د خپلې تګلارې د یوې وسیلې په توګه کاروي. هند په کلکه له طالبانو سره مخالفت کوي او د افغان حکومت قوي ملاتړ کوونکی دی.

د ایران هڅه دا ده چې په سیمه کې خپل درونـد وزن وساتي او په لویه کچه له متحده ایالاتو سره د خپلو اړیکو په پام کې نیولو سره له افغانستان څخه څارنه وکړي. ایران او متحده ایالات په افغانستان کې د سولې او ثبات په ګډون، ځانګړې ګډې ګټې لري، خو د دوی مشترکات د واشنګټن او تهران تر منځ د زیاتېدونکي کړکیچ تر سیوري لاندې دي.

ایران په افغانستان کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د سولې له پروسې سره یوځای نه شو، خو د متحده ایالاتو- طالبانو د سولې موافقې ته په غبرګون کې تهران د هر هغه نوښت هرکلی وکړ، چې په افغانستان کې له ثبات او سولې سره مرسته کوي. په ورته وخت کې ایران په ټینګه باور لري چې په افغانستان کې سوله به یوازې د کورنیو خبرو اترو او «د افغانستان د ګاونډیو ګټو په پام کې نیولو سره» شونې وي.

ایران او طالبان له افغانستان څخه د امریکايي ځواکونو په ایستلو کې مشترکې ګټې لري. له طالبانو سره د ایران اړیکې ډېرې د مصلحت له مخې دي. ایران، طالبانو ته د ایډیالوژیک دښمن یانې د خراسان اسلامي دولت، چې د داعش په نامه هم پیژندل کیږي، پر وړاندې د یو متقابل ځواک په توګه ګوري. تهران همدا راز غواړي چې له جګړې وروسته په افغانستان کې د خپل نفوذ سیمه وساتي. بیا هم له ایران سره د طالبانو اړیکې ډېرې د فرصت له مخې دي او ښايي چې د جیوپولیټیک حالت له بدلون سره پکې تغییر راشي.

د لویو قدرتونو په مینځ کې روسیه په پیل کې په افغانستان کې د طالبانو رژیم په لرې کولو کې د متحده ایالاتو په مشرۍ له ائتلاف څخه ملاتړ وکړ. روسیې هغه مهال خپل دریځ بدل کړ کله چې طالبانو په هیواد کې پوځي فعالیت بېرته پیل کړ، په داسې حال کې چې د داعش په ګډون نورې تروریستي ډلې چې د منځنۍ آسیا ثبات له ګواښ سره مخ کوي، په افغانستان کې راپیدا شوې. روسیه اوس د افغان شخړې د سیاسي هواري ننګه کوي او د امریکا- طالبانو د سولې له تړون څخه ملاتړ کوي. روسیه په دې باور ده، چې په افغانستان کې سیاسي جوړجاړی کولی شي مسکو ته له افغانستان سره د څو اړخیزو اړیکو نوي کولو ته لاره پرانیزي او په سیمه کې د متحده ایالاتو او ناټو شتون د مخنیوي لپاره خپل نفوذ پراخ کړي.

چین او متحده ایالات په افغانستان او پاکستان کې د ثبات لپاره ګډه ستراتیژیکه لېوالتیا لري. دواړه هیوادونه په افغانستان کې د مطلوب سیاسي جوړښت په باب سره ورته نظرونه لري.

د چین- پاکستان د اقتصادي دهلیز پلي کېدل، چې د میلیاردونو ډالرو په ارزښت عملي کېږي، په مستقیم ډول په افغانستان کې په سولې او ثبات پورې اړه لري. پر دې سربېره، چین په خپل ایغور سنکیانګ ولایت کې له مخ په زیاتیدونکو داخلي ناکراریو، تروریزم او بېلتون غوښتونکو ګواښونو سره مخ دی، چې د افغانستان او پاکستان د ثبات او امنیت لپاره د چین د لا زیاتې لېوالتیا اصلي لامل دی.

پر دې سربېره، د بیجینګ ګټې په افغانستان کې لومړی اقتصادي دي، په دې هیله چې د افغانستان پراخو طبیعي زیرمو ته لار پیدا کړي. چین د څو اړخیزې کړنلارې له لارې د خپلو ګټو ملاتړ کوي، په داسې حال کې چې د یو کمربند یو سړک زېربنایي پروژې په ګډون، پر اوږدمهاله اقتصادي او ټکنالوژیکي ځواک باندې تمرکز کوي. چین په پام کې لري څو افغانستان په دې پروژه کې یوځای کړي.

په سیمه کې د دولتونو تر منځ بې باورۍ ته په کتو سره شونې نه ده چې موږ دې د رسمي څو اړخیزو خبرو اترو پروسې رامنځته کېدو ته په تمه اوسو، چې کولی شي د دوه اړخیزو تعاملاتو او دوه اړخیزو ګټو جوړجاړیو له لومړنې پړاو پرته سیمه ییز جوړجاړي ته لاره هواره کړي. لکه څنګه چې سیمه ییز لوبغاړي د افغانستان راتلونکې ته په بې باورۍ سره ګوري، دوی ښايي له خپلو ګټو څخه دفاع ته ادامه ورکړي. هغه څه چې کولی شي د سیمه ییزو لوبغاړو محاسبه بدله کړي، په افغانستان کې یو باثباته جوړښت دی، چې د ټولشموله مشرتابه تر سیوري لاندې د افغانستان د ملي ځواک د وسایلو د یوځایوالي له لارې چې د روانې سولې پروسې په اوږدو کې متحده ملي اجنډا وځاري، تر لاسه کیږي. دا په افغانستان کې کورنۍ وضعیت د سیمه ییز بدلون لپاره پر کلیدي عامل اړوي.

د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو تر منځ، د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته د درناوي په ګډون د باور کچه لوړول، د ګاونډیو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې اصل ته ژمنتیا او د ګاونډیو پر وړاندې د افغانستان له خاورې څخه د دښمن د فعالیتونو مخنیوی مهم مخکینۍ شرطونه دي. دا ډول چلند ممکن له سیمه ییزو لوبغاړو سره مرسته وکړي چې په افغانستان کې د خپلو سیالانو په قیمت خپلې ګټې تعقیب کړي. د دې لپاره چې د افغانستان خلک د سولې او ثبات لپاره په خوځښت راشي، د حکومت لپاره پکار ده چې لومړی باید په خپلو ساختارونو کې سمون راولي.

په پای کې د متحده ایالاتو او طالبانو د سولې تړون د افغانانو تر منځ د مستقیمو خبرو اترو او په افغانستان کې د سولې د لاسته راوړلو لپاره بنسټ جوړوي. د افغانستان برې د خپلو ګاونډیو، نورو سیمه ییزو لوبغاړو او لویو قدرتونو سره په مثبته او رغنده تعامل پورې اړه لري چې په افغانستان کې د دوی مستقیمې او غیر مستقیمې ښکېلتیا د هیواد د اوسني وضعیت بڼه بدله کړې. همکاري او د سیالۍ نشتون، د لویو قدرتونو او سیمه ییزو لوبغاړو د سیالۍ ختمولو او له افغانستان سره په دوه اړخیزو اړیکو کې د دربیمې ډلې نفوذ د مخنیوي لپاره اساسي ټکي دي.

په همهاله توګه، د سولې هیڅ جوړجاړی، له افغانستان سره د پر ځان بسیا کېدنې لپاره له نړیوالو اقتصادي مرستو پرته په یوازې ځان دوام نشي پیدا کولی. په سیمه کې د افغانستان اقتصادي ګډون، د هیواد لپاره د اوږدمهاله پر ځان بسیا کېدنې کیلي ده. په سیمه او ورهاخوا هېوادونو کې د جیوپولټیک ګټو بدلون ته په پام سره، کم کسان تمه لري چې افغانستان د سولې له جوړجاړي وروسته سمدلاسه په سیمه کې په بشپړ ډول ورګډ شي. دا ډول پروسه په احتمالي توګه په تدریجي ډول مخ ته تلی شي، ځکه چې د انفرادي دوه اړخیزو پروژو په لور هڅې ډېرې پخې دي او د پېچلو پروژو او څو اړخیزو جوړجاړیو پر لور هڅې چټکې نه دي. په پایله کې به افغانستان له جنګ وروسته دوره کې د خپلو ادارو د ثبات لپاره په نړیوالې اقتصادي مرستې تکیه کوي.

# د امریکا خونديتوب او د جګړې اوج؛

## امریکايي ځواکونه په داړمنه فضا کې وتلي، طالبانو پرې خوښي ځرګنده کړې



په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې له لاسلیک سره سم امریکايي ځواکونو اعلان کړی، چې په افغانستان کې يې د خپلو ځواکونو شمېره راکمه کړې ده. د امریکا د دفاع وزارت ويلي چې د ټرمپ له امر سره سم يې د جنوري په میاشت کې د خپلو ځواکونو شمېره په افغانستان کې ۲۵۰۰ ته راښکته کړې ده. بلخوا طالبانو هم د دې پرېکړې هرکلی کړی دی او وايي، طالبان هوکړې ته ژمن دي او مقابل لوری ته هم پکار ده چې پر ژمنو عمل وکړي. طالبان او امریکايان داسې مهال د یو بل د کړنو هرکلی کوي چې په کور د ننه جګړه شدیده شوې او ملکي تلفات هم لوړ شوي دي. وروسته له دې چې د طالبانو او امریکا تر منځ په دوحه کې هوکړه لاسلیک شوه، مهمه ماده يې دا وه چې امریکايي ځواکونه به له افغانستانه وځي. له همغه مهاله تر دې دمه په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د کمېدو بهیر روان و. ټرمپ خپلو سرتېرو ته امر وکړ چې باید د سرتېرو شمېر يې د جنوري تر نیمايي پورې ۲۵۰۰ کسانو پورې راښکته کړي. هغه مهال د ټرمپ دغه پرېکړه د ډېرو امریکايي سیاستوالو له مخالفت سره مخ شوه، خو ټرمپ له یوې خوا له دې پرېکړې کمپاینې ګټه پورته کوله او همدا راز يې ویل چې غواړي تر ټولو غوره میراث يې له افغانستانه د امریکايي ځواکونو ایستل وي.

تازه د امریکا د دفاع وزارت یا پنټاګون اعلان کړې چې په افغانستان کې يې د ټرمپ له غوښتنې سره سم د سرتېرو شمېر ۲۵۰۰ ته راښکته کړی دی. د پنټاګون په اعلامیه کې د امریکا د دفاع وزارت د سرپرست له خولې لیکل شوي، چې دوی له ژمنې سره سم په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ټولو ټیټې شمېرې ته رسولی دی. د پنټاګون اعلامیه کې د مېلر له خولې ویل شوي، امریکا په افغانستان کې د شل کلنې جګړې پای ته نږدې شوې ده او د سیاسي جوړجاړي او تلپاتې اوربند لپاره د افغانانو په مشرۍ د سولې د خبرو هرکلی کوي. هغه ویلي: «موږ په افغانستان کې سیاسي جوړجاړي ته نږدې یو. ژر به په دغه هېواد کې روانه جګړه د خبرو له لارې ختمه شي او امریکا د سولې په برخه کې د رامنځ ته کېدونکې هوکړې هرکلی کوي.»

بناغلی مېلر وايي، په افغانستان کې ۲۵۰۰ امریکايي پوځیان د دې لپاره کافي دي چې امریکا، د دې هېواد وګړي او د امریکا ګټې خوندي کړي. نوموړی وايي، امریکا به له ناټو سره یو ځای د ترهګرۍ پر ضد ماموریت او همدا راز د افغان پوځ روزنې، مشورې ورکولو او ملاتړ ته دوام ورکوي. کریسټوفر مېلر همدا راز ویلي چې په افغانستان کې يې د سرتېرو کمولو دا وشوه چې دوی له طالبانو سره لاسلیک کړي هوکړې ته ژمن دي او افغان سولې ته هم د امریکا ژمنتیا له همدې چارې ثابتېږي.

مېلر سره له دې چې د سرتېرو د شمېر په اړه معلومات ورکړي دا يې هم ویلي، چې د روان ۲۰۲۱ کال تر مې میاشتې به د ټولو سرتېرو د ایستلو بهیر ته ادامه ورکړي. هغه د خپلو خبرو دویمه برخه یانې د ټولو سرتېرو ایستل مشروط بولي او په وینا يې شرایطو ته په کتو به د خپلو ټولو سرتېرو پر ایستلو فکر کوي.

افغان حکومت د پنټاګون پر دې ځرګندونو غبرګون نه دی ښودلی، خو وسله والو طالبانو يې هرکلی کړی دی. د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم ویلي چې دوی له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د وتلو هرکلی کوي او په خبره يې دا د هوکړې برخه ده. هغه همدا راز ویلي چې طالبان هوکړې ته ژمن دي او له مقابل اړخ هم د ژمنتیا تمه کوي. هغه ویلي: «له افغانستان څخه د نورو امریکايي ځواکونو وتل چې پرون يې متحده ایالاتو اعلان وکړ، د دوحې د توافقنامې په اړه یو عملي ګام او ښه پرمختګ دی.»

د افغانستان د ملي امنیت شورا ویاند رحمت الله اندړ بیا له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د بهرنیو ځواکونو وتل به کوم منفي اغېز ونه لري، ځکه دمګړۍ ډېر عملیات د افغان ځواکونو له لورې تر سره کېږي.


طالبان او امریکا داسې مهال د یو بل د کړنو هرکلی کوي چې په افغانستان کې جګړه اوج ته رسېدلې ده، ملکي تلفات لوړ شوي دي او د مرکز په ګډون، په ډېرو ولایتونو کې امنیتي پېښې مخ په ډېرېدو دي.

## ستره محکمه: تېرو نهو میاشتو کې له ۷۶زرو ډېرې جزايي قضیې څېړل شوې

ستره محکمه: تېرو نهو میاشتو کې له ۷۶زرو ډېرې جزايي قضیې څېړل شوې

د سترې محکمې چارواکي وايي چې قضاییه قوې د ۱۳۹۹ مالي کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۷۶زره او دوه سوه جزايي قضیې څېړلې دي.

د سترې محکمې د حقوقي او قضایي مطالعاتو رییس او ویاند احمد فهیم قویم ویلي چې د یادو قضیو له شمېرې ۶۶ زره او ۶۶۶ يې په ۱۳۹۹ کې سترې محکمې ته سپارل شوي او څه باندې ۹۵۰۰ نور يې له ۱۳۹۸ مالي کال څخه پاتې وې.



هغه ویلي: «د ۶۱۷۱۷ قضیو په تړاو حکمونه صادر شوي چې دا قضیې یوازې جزايي برخه رانغاړي او ډولونه يې د قتل، غلا، اخلاقي جرمونو، جنسي تېري، اختلاس، ښځې، اختطاف، د انسان قاچاق، د دولتي ملکیتونو غصب، له ښځو سره د تاوتریخوالي، د اداري فساد قضیې، د درنو جرمونو د اداري فساد قضیې، د مخدره موادو قاچاق، د ښځو پېرودل او پلورل او د طلاق قضیې دي.»

قویم زیاته کړې چې ۴۲۳۹ قضیې د تحقیقاتو په چارو او د جرم په کشف کې د نیمګړتیاوو له امله بېرته اړوندو ادارو ته مسترد شوې دي.

د سترې محکمې دغه چارواکي په یادو قضیو کې د مجرم یا بري الذمه پېژندل شویو کسانو شمېر ځرګند نه کړ، خو ويې ویل چې په دې اړه او د مدني او سوداګریزو چارو په ګډون د نورو برخو د قضیو د توحید په تړاو کار دوام لري او بشپړ جزیات به وروسته له رسنیو سره شریک شي.

په ورته مهال د حقوقپوهانو د ټولنې مرستیال عبدالسبحان مصباح په دې موده کې د سترې محکمې له خوا په دغه شمېر د جزايي قضیو څېړل یو مثبت ګام ګڼي او وايي چې دا پر قضاییه قوې باندې د خلکو د باور د زیاتېدو ښکارندويي کوي.

خو مصباح د افغانستان په قضایي سکتور کې د یو لړ جدي ستونزو یادونه وکړه او وې ویل: «فساد لا هم شتون لري، مدیریتي ستونزې شته دي، د فهم له لحاظه تراوسه هم زموږ ځینې قاضیان ستونزې لري، په لږې پرتو سیمو کې (عدالت ته) د خلکو لاسرسی لا هم کم دی، شفافیت کې لا هم ستونزې شته دي...».

نوموړی د قضاییه قوې اړوندو قوانینو او مقرراتو کې اصلاحات، په دغه سکتور کې له اداري فساد سره جدي مبارزه او له دندو څخه د مفسدو کسانو لرې کول، د قضایاوو د زوړ مدیریتي سیستم برېښنايي کول، د قاضیانو د ظرفیتونو لوړول او د قضیو د کمیت ترڅنګ پر کیفیت باندې پاملرنه هغه موارد یاد کړل چې په وینا يې، لا هم زیات کار ته اړتیا لري.

## راپورونه: دوحې ته د مرکچي پلاوو د ټولو غړو له رسېدو سره سره، په خبرو کې پرمختګ نه دی شوی

په داسې حال کې چې له تېرو نږدې دوو اونیو را په دې خوا د قطر په پلازمېنه دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پیل شوي، د راپورونو له مخې، تر اوسه دواړو خواوو یوازې یوه مقدماتي او یوه فني ناسته ترسره کړې ده.

که څه هم د ناستو د ځنډ په اړه تر اوسه کره معلومات نشته، خو د ملي مصالحې عالي شورا وايي، چې د دولت د مرکچي پلاوي محدود شمېر غیرحاضر غړي هم دا مهال دوحې ته رسېدلي دي.

د یادې شورا ویاند فریدون خوځون وايي: «د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مرکچي پلاوي محدود شمېر غړي چې د روغتیايي او نورو شخصي ستونزو له امله دوحې ته نه وو راغلي، اوس ټول را رسېدلي، په یو موټي ډول په خبرو بوخت دي.»



په ورته یوې بلې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي چې د طالبانو د مرکچي پلاوي غیرحاضر غړي هم دوحې ته رسېدلي دي، خو طالبان بیا وايي چې دوی اوس هم او مخکې هم مذاکراتو ته چمتو دي.

د دې ډلې د قطر د دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم وايي چې د طالبانو د مرکچي ټیم رییس او د دوی سیاسي معاون او د دفتر رییس هم حاضر دي او زیاته يې کړه چې د تازه ناستې په اړه لا پرېکړه نه ده شوې.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر میلادي کال د سپټمبر په ۱۲مه په قطر کې بین الافغاني خبري پیل شوې چې له څلورو میاشتو مذاکراتو وروسته دواړې خواوې د خبرو پر کړنلارې توافق ته ورسېدل.

که څه هم دوحه کې د سولې له دویم پړاو خبرو د افغانانو تمه دا وه چې اوربند به ټینګ شي، خو لا هم په افغانستان کې تاوتریخوالې په لوړه کچه روان دی. په کابل کې د امریکا شارژدافیر ویلي چې متحده ایالتونه ژر تر ژره په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کچې د راټیټېدو او د اوربند غوښتونکې دی.

خو په ورته مهال د امریکا دفاع وزارت بیا اعلان کړی چې دوی په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر تر ټولو ټیټې کچې ۲۵۰۰ ته راښکته کړی دی. ناټو بیا د امریکا دغه اقدام ته په غبرګون سره په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د افغان ځواکونو د روزنې او سلا مشورې په برخه کې د دوی دریځ نه دی بدل شوی.

په اعلامیه کې راغلي چې دوی به له افغان ځواکونو سره مرستو ته دوام ورکوي او په راتلونکو میاشتو کې به شرایطو ته په کتو، په افغانستان کې خپل حضور و ارزوي.

## کرونا او د بشریت لپاره د خطر زنګ؛

### تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیون کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۴میلیونه او ۴۲۱ زره او ۱۷ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۲۰ زره او ۲۵۴کسان مړه شوي او له ۶۷ میلیونو ډېر تړي بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۴ میلیونه او ۱۰۴ زره او ۴۲۵ ته رسېدلي او ۴۰۱ زره او ۸۶۸ نور امریکایان تړي مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۵۴۳ زره او ۶۵۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۳۹۴ زره او ۲۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۵۴۴ زره او ۶۲۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۳۱۶ زره او ۱۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

که څه هم د یاد ویروس د له منځه وړلو لپاره د تازه جوړو شویو واکسینونو تطبیق پیل شوی، خو د ویروس چټک خپراوې ګڼ هېوادونه اړ کړي چې بېرته بېړنیو حالاتو ته ور وګرځي.

بلخوا د روغتیا د نړیوال سازمان مشر تدروس ادهانم ګبریسوس ویلي، غواړي چې د کرونا ضد د واکسین کمپاین په سلو راتلونکو ورځو کې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې پیل شي. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش هم په نړۍ کې د کرونا د دوو میلیونو قربانیانو د یادښت په مناسبت ویلي، چې ټوله نړۍ باید له کرونا سره د مبارزې لپاره متحده شي.


ګوتریش زیاته کړې: «زموږ نړۍ یوې زړه بوږنوونکې شېبې ته رسېدلې ده. د کوویډ – ۱۹ وبا د څه باندې دوو میلیونو کسانو ژوند اخیستی. د دغو ټکان ورکوونکو شمېرو تر شا نومونه او ښېرې پرتې دي».

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
**کابوکي**



دولت: زه د سیاستوالو په تړاو نه غږېږم، د دوی رد او تایید یا سرمشریزه اړین نه دي. په عام ډول کله چې د اړیکو په تړاو غږېږو، نو تله یې دا ده چې ایا د بهرنیو چارو وزیران له یو بل سره ناستې کوي او که نه؟ ښه نو چې داسې ده، د بهرنیو چارو وزیران ولې سره نه ویني؟ اخر دا د دوی دنده ده.

دورانی: زه هم همدا خبره کوم. په امریکا او هند غوندې هېوادونو کې چې استېلېشمېنټ پکې پیاوړی وي، د اوباما، ټرمپ او یا مودي غوندې کسان په اوضاع کې ځینې جزئي تفاوتونه او ان لوی ظاهري بدلونونه راوستلی شي؛ خو سیاستونه بیا پر خپل ځای پاتې وي. یوه بله جدي مسئله دا ده چې د وخت په تېرېدو سره که د سوله غوښتونکو یا سوله پالو یا د سولې د لابي پر خبرو څوک غوږ و نه ګروي، نو دوی پر خونړیو بازانو بدلېږي. دې خلکو یو عمر سولې ته پر کار کولو عقیده درلوده، خو دوی چې دا کیسې ویني نو دې خبرو ته شا کېږي، دوی هم وایي بلا مې توره ورپسې.

دولت: ځکه نو ډېره حوصله پکار ده.

دورانی: هو حوصله پکار ده، تر یوه وخته.

دولت: ټول عمر حوصله پکار ده.

دورانی: ټول عمر څوک حوصله کولای شي؟ تاسو خو یې یو څو را په ګوته کړئ.

دولت: بلاخره پر باور باید کار وشي.

دورانی: بله دا چې د ذهنیتونو په تړاو خبرې باید پرېښودل شي. نړیواله ټولنه، نړیوالې رسنۍ، زموږ خپلې رسنۍ او زموږ خپل نیو - لیبرالان ټول همدا یوه خبره کوي: «راځئ چې پر ذهنیتونو کار وکړو.» دوی څو ځله مات شوي دي، که د سولې په تړاو خبرې کوي، که د قلمرو په تړاو او که د زیاتو حقونو په تړاو، نو دوی له درانه خوبه راویښېږي.

تر ګردو بد نصیحت دا دی چې څوک وایي، ذهنیتونه باید بدل شي، «مدرسه بند کرو» مطلب مدرسې وتړئ. دا خبره یوازې په مدرسه پورې تړلې نه ده. ما مدرسه په سترګو نه ده لیدلې او یو وخت مې له امریکا سره زموږ د اتحاد ملاتړ کاوه. ما له هند سره د سولې خبرې شنلې دي. زه مدرسې ته نه وم تللی چې دې پایلې ته رسېدلی یم چې دا حیله دې کار وکړي.

### ۱۵
### یوازې شوی پروېز مشرف

دولت: جنرال صېب وویل چې دی به د کارګېل د پېښېدو لامل تشریح کړي، د کارګېل پېښه لاهور ته د واجپای په سفر پسې سمدستي وشوه. نو ښاغلیه دا پېښه ولې وشوه!؟

دورانی: له مشرف سره له اوږدې مودې دا فکر و. پاکستان د ۱۹٦۵ کال تر جګړې مخکې په کارګېل کې ځینې ګټې درلودې، پاکستان د اکمال پر یوې مهمې کرښې کنټرول درلود. په ۷۱ کال کې هند په کارګېل کې ځینې لوړې څوکې ونیولې او دا هر څه د پاکستان له لاسه ووتل.

دولت: مطلب د دې مسئلې ریښې په سیاچین کې وې.

دورانی: دغه «لېه» ته تللې سړک هند ته ډېر اهمیت درلود. هم په ۱۹٦۵ کې او هم په ۱۹۷۱ کې هند له وړاندې دغه ځای خالي کړی و. دا لرې پرته سیمه ده، ځکه خو هند په اسانۍ د کارګېل لوړې څوکې ونیولې.

د ۱۹٦۵ کال تر جګړې وروسته زموږ نیت دا و چې نیول شوې سیمې بېرته را وګرځوو، دا که په «چامب» کې وې او که په «کارګېل» او راجستان او نورو سیمو کې. زه د دواړو جګړو سرتېری یم، د ۱۹۷۱ په جګړه کې زه په دښته کې وم، د جګړې تر ختمېدو لږ وروسته زما دنده په کشمیر کې وه، هلته پر شوې معامله خبر شوم. معامله داسې شوې وه چې «چامب» به (روښانه) ساتل کېږي او نوې صفري کرښه را کښل شوې وه، د دې کرښې پر بنسټ د کارګېل لوړې څوکې د هند برخه شوې وې.

مشرف د دې څوکو د بیا نیولو په عقیده و.

د بېنظیرې د دویمې دورې پر مهال دی تورن جنرال و او د پوځ د عملیاتو مشري یې پر غاړه وه. دغه مهال یې وړاندیز وکړ: «لومړۍ وزیرې، موږ دا کار کولای شو؟» بېنظیرې ورته وویل: «ستاسو به پر وس پوره وي، خو له سیاسي پلوه دا کار د منلو نه دی.»

دی چې لوی درستیز شو، نو ویل یې چې له اټومي ازمایښتونو وروسته پاکستان د عملیاتو لپاره په ښه پوزېشن کې و. د ده له انده له اټومي کېدو وروسته جګړې کېدې. ده ویل، زه ډاډه یم چې د کارګېل لوړې څوکې بېرته نیولی شو، خو هندیانو څه کولای شول؟

له بېلا بېلو اړخونو د اټومي کېدو دا تیوري ناسمه انګېرنه وه، خو هغه خپله فرضیه پر «اټومي خوندیتوب» بنا کړې وه. مطلب د اټومي وسلو تر جوړولو وروسته موږ ډېر څه کولای شول. دا سمه وه چې تر اټومي کېدو وروسته به جګړه نه نښته، خو ناسمه برخه یې دا وه چې له دغه کار وروسته به دربانډې د «بې پروا» او «جاهل» ټاپه لګېږي. خلک به وایي چې تاسو اټومي جګړې ته لمن وهی، که څه هم د دوی له انده ۹۵ سلنه دا جګړه نا شونې وه. خو دغه پنځه سلنه احتمال ولې له پامه وغورځېږي؟ **دوام لري...**

# ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسه

◀ حمیدالله حمیدي



ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسه چې په دایکنډي ولایت کې موقعیت لري، د ۱۳۹۰ کال د ثور میاشتې په ۱۴مه یې له لوړو زده کړو وزارت څخه خپل د فعالیت جواز تر لاسه کړی دی.

د لوړو زده کړو د یادې موسسې د علمي او تدریسي چارو مرستیال، علي پاکبین په وینا، د لوړو زده کړو دې موسسې خپل فعالیت د څلورو پوهنځیو (ښوونې او روزنې، انجنیري، حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد) په درلودلو سره پیل کړی دی.

د ښاغلي پاکبین په وینا، ښوونه او روزنه پوهنځی یې د ریاضي، ټولنیزو علومو، تاریخ، پښتو ادبیاتو او ساینس ډېپارټمنټونه یا څانګې لري، انجنیري پوهنځی یې د سېول ډېپارټمنټ، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې د فقې او قانون، سیاسي علومو او حقوقو ډېپارټمنټونه لري او اقتصاد پوهنځی یې د تجارتي اقتصاد او مدیریت ډېپارټمنټونه لري، چې په ټولو فعالو پوهنځیو کې یې اوس عملاً محصلین پر لوړ زده کړو بوخت دي.

د ناسر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال زیاته کړه چې ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه اوسمهال ۱۲۴۳ برحاله محصلین لري، چې ښځینه او نارینه دواړه پکې شامل دي. خو دا چې څو سلنه یې نارینه او څو سلنه یې ښځینه محصلین دي، په اړه یې دقیق معلومات نه لري.

نوموړی وایي، دا چې تر اوسه پورې یې هغه شرایط نه دي پوره کړي، چې د ماسټرۍ پروګرام درلودلو لپاره ورته اړتیا ده، نو تر اوسه پورې د لوړو زده کړو په یاده موسسه کې د ماسټرۍ کوم پروګرام هم نه لري، خو په پام کې لري چې د شرایطو تر پوره کولو وروسته په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام هم پیل کړي، څو یې محصلین له فراغت وروسته په اړوند پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام هم تعقیب کړي. ښاغلی پاکبین زیاتوي، ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه په شپږو دورو کې ۱۷۸۲ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وایي، فارغ شوي محصلین یې خپله په دایکنډي ولایت او د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي او د هېواد لپاره خدمت کوي.

ښاغلی علي پاکبین وایي، د لوړو زده کړو د لایحې له مخې خصوصي پوهنتونونه هر کال په دوو دورو کې د کانکور ازموینې په اخیستو سره د نوو محصلینو د جذب حق لري، چې یوه یې پسرلنۍ دوره ده او بله یې هم خزاني دوره. نوموړی وایي چې په یادو دورو کې تر ۳۵۰ پورې نوي محصلین جذبولای شي. نوموړی وایي، د محصلینو لپاره په ځانګړو برخو کې تخفیف وړاندې کوي، داسې چې شاوخوا ۱۰۰ ښځینه محصلینو ته یې ۸۰٪ تخفیف په پام کې نیولی دی. په دې برخه کې یې ۴ هغو محصلینو ته ۱۰۰٪ تخفیف ورکړی دی چې د شهیدانو او معلولینو له کورنیو څخه دي او د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورپېژندل شوي دي او ۵۰ نورو ښځینه محصلینو ته یې ۳۰٪ تخفیف په پام کې نیولی دی. په ټوله کې ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسه د نویو راغلو محصلینو لپاره هم ځانګړی تخفیف په پام کې لري.

د خصوصي پوهنتونونو یا د لوړو زده کړو موسسو یوه ښېګڼه دا وي، چې محصلین کولای شي د خپلې خوښې وړ وخت کې د زده کړو لپاره حاضر شي او تر څنګ یې نورې لوړې زده کړې او یا هم نور کاروبار وکړي. ښاغلی پاکبین همدا راز وایي، موسسه یې د ورځې په څلورو دورو کې تدریسي چارې وړاندې کوي. پاکبین زیاتوي، ناصر خسرو بلخي د لوړو زده کړو موسسه په ټوله کې ۹۳ استادان لري چې تر ټولو لوړ تحصیلي سند لرونکي استادان یې په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې تدریس کوي، چې د یادو ۹۳ استادانو په منځ کې ۳۵ سلنه یې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لسانس دي. دی وایي، هڅه یې دا ده چې پر کارپوه، مسلکي او خپل مسلک کې رسېدلي او تجربه لرونکي استادان پر دندو وګوماري، څو پر کارپوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې علمي مرستیال همدا راز زیاتوي، دوی د محصلینو لپاره کتابتون لري چې د څلورو پوهنځیو لپاره په مختلفو برخو کې تر ۲۵۰۰۰ جلده پورې کتابونه لري. دی وایي چې په کتابتون کې موجود کتابونه یې تر ډېره د پوهنځیو اړوند دي، خو تر څنګ یې د ازادې مطالعې لپاره هم ډېر کتابونه په کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، څو محصلین وکولای شي وخت ناوخت په دغه کتابتون کې مطالعه وکړي او خپل معلومات زیات کړي.

ښاغلی پاکبین وایي، دوی په کور د ننه له ځینو پوهنتونونو سره لکه بامیان پوهنتون، دایکنډي د لوړو زده کړو موسسه او په کابل کې له ځینو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري. خو په بهر کې یې له کوم پوهنتون یا علمي مرکز سره اړیکه نه ده ټینګه کړې. پاکبین زیاتوي، هڅه یې دا ده چې له هېواده بهر هم له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې ولري او په ځینو برخو کې ور سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کړي.

د ښاغلي علي پاکبین په وینا، تر اوسه پورې یې فارغ شویو محصلینو ته هغه ډیپلومونه نه دي ورکړي، چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا توضیح کېږي، خو خپلو محصلینو ته یې رسمي تصدیق پاڼې ورکړې دي، چې محصلین کولای شي پر مټ یې دنده پیدا کړي او یا هم په نورو ځایونو کې ور باندې لوړې زده کړې وکړي. پاکبین وایي چې کله یې د دولتي ډیپلومونو د وېش وار ورسېږي، فارغ شویو محصلینو ته به دولتي ډیپلومونه هم ورکړي.

نوموړی همدا راز زیاتوي، د موسسې اداري یې د محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره ځینې پروګرامونه په پام کې نیولي دي، چې له دې ډلې څخه د علمي سمینارونو، پروګرامونو او ورکشاپونو دایرول هغه یې مهم دي. څو یې د محصلینو وړتیاوې لوړې شي او تجربې تر لاسه کړي. تر څنګ یې هڅه کړې ده چې محصلینو ته ټول هغه امکانات برابر کړي، چې یو پوهنتون یا د لوړو زده کړو یوه موسسه یې باید ولري.

ښاغلی پاکبین وایي چې دوی د پوهنتون د لا ښه والي او د علمي بډاینې په موخه ځینې ستراتیژیک او تطبیقي پلانونه لري، چې د راتلونکي ښوونیز کال له پیل سره سم به یې پلي کړي او پوهنتون به یې ور سره په هر اړخیزه توګه پرمختګ وکړي.

پاکبین وایي چې له لوړو زده کړو وزارت څخه په ځانګړې توګه د خصوصي پوهنتونونو په تړاو ځینې غوښتنې لري، د بېلګې په توګه، په نوو مقرراتو او لایحو کې له سخت ګیریو څخه کار نه اخیستل، د ماسټرۍ پروګرام د جواز تر لاسه کولو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کول او داسې نور هغه چې دوی ورسره پرمختګ کولی شي. همدا راز کابل ښار ته له دایکنډي ولایت څخه غځېدلې لار ډېرې ستونزې لري، چې علمي او اکاډمیک بنسټونه یې له مرکز سره پر وخت له اړیکو نیولو څخه محروم کړي دي.

همیانی

# فواید نوشیدن آب چیست و میزان لازم آن برای بدن چقدر است؟

امین همتی

شاید تا به‌حال شنیده باشید که آب در بدن معجزه می‌کند و مصرف زیاد آب، موجب دفع سموم از بدن می‌شود و مزایای بی‌شماری دارد. البته نمی‌توان این حقیقت را انکار کرد که نوشیدن آب برای سلامتی ما ضروری است، ولی میزان دقیق آبی که باید به طور روزانه مصرف کنیم چقدر است و چطور متوجه شویم که آیا بدن ما به اندازه‌ی کافی آب دریافت می‌کند یا خیر؟ در مقاله‌ی پیش رو، این مسئله بر اساس مطالعات انجام شده (و نه گزارش‌های فردی و موردی) مورد بررسی قرار می‌گیرد تا میزان مصرف آب مناسب برای سلامت جسمی و ذهنی، مشخص شود و اساسا ببینیم که فواید نوشیدن آب برای بدن چیست .

بدن ما حدوداً از ٦٠ درصد آب تشکیل شده است و به طور مداوم در حال از دست دادن آبی است که عمدتاً از طریق ادرار یا عرق از بدن خارج می‌شود. گزینه‌های بسیار متفاوتی در مورد اینکه هر روز باید چقدر آب بنوشیم، وجود دارد. معمولاً مقامات بهداشتی توصیه می‌کنند که ۸ لیوان ۸ اونسی (حدوداً ۲۵۰ گرام یا ۲۵۰ سی‌سی) آب بنوشیم که برابر با حدود ۲ لیتر یا نیم گالن آب است. این همان قانون ۸×۸ است که به راحتی می‌توان آن را به خاطر سپرد. با این حال، معلم‌های بهداشت دیگری نیز وجود دارند که عقیده دارند بدن ما همواره در آستانه‌ی از دست دادن آب است و باید همیشه در طول روز آب بنوشیم، حتی وقتی که تشنه نیستیم. این مسئله نیز مانند اغلب موارد دیگر، به فرد بستگی دارد و عوامل (درونی و بیرونی) فراوانی وجود دارد که در نهایت بر میزان نیاز ما به آب تاثیر می‌گذارد. در این مقاله قصد دارم به بعضی از مطالعات انجام شده در مورد مصرف آب و اینکه این مسئله تا چه حد بر عملکرد بدن و مغز ما تاثیر می‌گذارد، نگاهی بیندازم و سپس توضیح دهم که چگونه می‌توانیم به راحتی، میزان مصرف آب را با نیازهای فردی خود تطبیق دهیم.

بسیاری از افراد ادعا می‌کنند که اگر ما در طول روز به بدن خود آب نرسانیم، میزان انرژی و عملکرد مغز ما کاهش می‌یابد. در واقع مطالعات فراوانی انجام شده که این ادعا را تایید می‌کند. در



مطالعه‌ای انجام گرفته بر روی گروهی از زنان، از دست دادن مایعات بدن به میزان ۱.۳٦ درصد از وزن بدن، پس از ورزش کردن، موجب اختلال در خلق‌وخو و تمرکز در آنان شد و در عین حال دفعات سردرد را نیز در آنان افزایش داد. مطالعات دیگری نیز نشان داده است که از دست دادن خفیف آب بدن (به میزان ۱ تا ۳ درصد از وزن بدن) در نتیجه‌ی ورزش یا گرمای هوا می‌تواند بر جنبه‌های فراوان دیگری از عملکرد مغز، تاثیر منفی داشته باشد. اما فراموش نکنید که ۱ درصد از وزن بدن، مقدار نسبتاً قابل توجهی است. این اتفاق بیشتر زمانی رخ می‌دهد که در شرایطی مانند ورزش کردن یا هوای گرم، زیاد عرق می‌کنید. کم‌آبی خفیف می‌تواند بر عملکرد فیزیکی نیز تاثیر منفی بگذارد و موجب کاهش استقامت بدن شود.

نتیجه‌گیری: کم‌آبی خفیف ناشی از ورزش یا گرمای هوا، می‌تواند بر عملکرد فیزیکی و ذهنی تاثیراتی منفی بگذارد.

ادعاهای زیادی مطرح شده است که بر اساس آن‌ها، نوشیدن آب بر وزن بدن تاثیر می‌گذارد و با نوشیدن آب بیشتر، سوخت‌وساز بدن افزایش یافته و اشتها کاهش می‌یابد. بر اساس ۲ مطالعه، نوشیدن ۵۰۰ میلی‌لیتر آب می‌تواند به طور موقت، سوخت‌وساز بدن را به میزان ۲۴ تا ۳۰ درصد افزایش دهد.

محققان برآورد می‌کنند که نوشیدن ۲ لیتر آب در روز، می‌تواند مصرف انرژی در بدن را تا حدود ۹٦ کالری در روز افزایش دهد. برای این منظور بهتر است آب سرد بنوشید، زیرا بدن مجبور می‌شود انرژی (کالری) مصرف کند تا دمای آب نوشیده شده را برای رسیدن به دمای بدن، گرم کند. نوشیدن آب، حدود نیم ساعت پیش از غذا نیز میزان کالری مصرفی در افراد، به ویژه افراد مسن را کاهش می‌دهد. در مطالعه‌ای نشان داده شده، افرادی که در حال رژیم لاغری بودند و پیش از غذا، ۵۰۰ میلی‌لیتر آب می‌نوشیدند، ۴۴ درصد بیش از افراد دیگر، در طول دوره‌ای ۱۲ هفته‌ای وزن کم کردند. به طور کلی، به نظر می‌رسد که نوشیدن مقدار کافی آب (به ویژه پیش از غذا) نقش قابل توجهی در کاهش وزن دارد، به ویژه در صورتی که با رژیم غذایی سالمی نیز همراه شده باشد.

نتیجه‌گیری: نوشیدن آب می‌تواند موجب افزایش ملایم و موقتی سوخت‌وساز بدن شود و نوشیدن آب حدود نیم ساعت پیش از غذا نیز می‌تواند موجب شود تا فرد غذای کمتری مصرف کرده و کالری کمتری دریافت نماید.

آب ساده تنها چیزی نیست که موجب حفظ تعادل مایعات در بدن می‌شود. نوشیدنی‌های دیگر و مواد غذایی نیز می‌توانند تاثیر قابل توجهی بر حفظ این تعادل داشته باشند. یکی از باورهای موجود این است که نوشیدنی‌های کافئین‌دار (مانند چای و قهوه) را نباید به حساب بیاوریم، زیرا کافئین، ادرارآور است. ولی مطالعات نشان می‌دهند که این باور درست نیست، زیرا اثر ادرارآور این نوشیدنی‌ها بسیار ضعیف است. علاوه بر آن، بیشتر مواد غذایی نیز دارای آب هستند. گوشت، ماهی، تخم‌مرغ و به ویژه میوه‌ها و سبزیجات سرشار از آب، همگی دارای مقادیر قابل توجهی آب هستند. اگر شما چای یا قهوه بنوشید و مواد غذایی سرشار از آب بخورید، این احتمال وجود دارد که همین نوشیدنی‌ها و مواد غذایی، برای حفظ تعادل مایعات در بدن شما کافی باشند، البته در صورتی که زیاد عرق نکنید.

نتیجه‌گیری: سایر نوشیدنی‌ها (از جمله نوشیدنی‌های کافئین‌دار مانند چای و قهوه) نیز به حفظ تعادل مایعات در بدن کمک می‌کنند و بیشتر مواد غذایی نیز دارای آب هستند.

حفظ تعادل مایعات در بدن، برای بقای ما ضروری است. به همین دلیل در تکامل، سازوکارهای پیچیده‌ای ایجاد شده است که زمان و میزان آبی که نیاز داریم را تنظیم می‌کند. وقتی کل آب موجود در بدن از حد خاصی کمتر می‌شود، احساس تشنگی می‌کنیم. این ویژگی توسط سازوکارهایی کنترل می‌شود که کارهایی مانند نفس کشیدن را کنترل می‌کنند، یعنی لازم نیست به طور آگاهانه به آن فکر کنیم. احتمالاً برای اغلب مردم، نیازی نیست که در مورد میزان مصرف آب خود نگران باشند، زیرا غریزه‌ی تشنگی، غریزه‌ای قابل اطمینان است که توانسته ما انسان‌ها را برای مدتی بسیار طولانی زنده نگاه دارد. در واقع هیچ مبنای علمی‌ای برای قانون ۸×۸ وجود ندارد و این قانون کاملاً قراردادی است. در واقع شرایط خاصی وجود دارد که در آن ممکن است به مصرف آب بیشتری نیاز داشته باشیم، یعنی بیش از میزانی که به دلیل تشنگی‌مان آب می‌نوشیم. مهم‌ترین مورد، زمانی است که بیشتر عرق می‌کنیم. این حالت در زمان ورزش کردن و همچنین در هوای گرم (به ویژه در آب و هوای خشک) ایجاد می‌شود. اگر زیاد عرق می‌کنید، حتماً باید مایعات از دست رفته‌ی بدنتان را با نوشیدن آب جبران کنید. ورزشکارانی که به مدت طولانی و به شدت ورزش می‌کنند، باید علاوه بر آب، الکترولیت‌های (موادی مانند قند و نمک) از دست رفته‌ی بدنشان را نیز جبران کنند. در دوران شیردهی و بیماری‌هایی مانند اسهال و استفراغ، نیاز بدن به آب افزایش می‌یابد. افراد مسن باید آگاهانه مراقب میزان مصرف آب خود باشند، زیرا برخی مطالعات نشان داده‌اند که سازوکار تشنگی در سنین بالا، دچار اختلال می‌شود.

## ولسي جرگې د رايو په اکثريت د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه بیا رد کړه

ولسي جرگې د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې طرحه د سرغړونو د نه اصلاح او د حکومت د دوو نورو سرغړونو له امله د رايو په اکثريت بیا رد کړه.

يادې جرگې د ۱۱۰۰ ولايتي پروژو د حذف، په احتياطي کودونو کې د بودجې زياتولو او څو نورو مواردو له امله د مرغومي مياشتې په لسمه هم د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې طرحه رد کړې وه. حکومت د بودجې دويمه طرحه تېره اونۍ ولسي جرگې ته ولېږله.

د ولسي جرگې رييس مير رحمان رحماني په د جرگې په پرونۍ ناسته کې وويل، حکومت نه يوازې د بودجې په لومړۍ طرحه کې د سرغړونو په نښه شوي ۱۷ موارد نه دي اصلاح کړي، بلکې د بودجې په دويمه طرحه کې يې دوې نورې سرغړونې هم زياتې کړې دي.

هغه زياته کړه، د بودجې په دويمه طرحه کې د دولتي کارکوونکو د معاشونو انډول يا يوشان کولو موضوع چې د ولسي جرگې له خوا تصويب شوې، نه ده ځای پر ځای شوې.



نه توازن، د بودجې په سند کې د ملي دسترخوان پروګرام شاملېدل، پور او ځينو ادارو ته د ډېرې بودجې اختصاص د هغو دلايلو له ډلې دي، چې د جرگې د پرونۍ ورځې ناستې ته د دې جرگې د مالي او بودجې کمېسيون له خوا د بودجې د دويمې طرحې د رد د دلايلو په توگه عنوان شوي دي.

په ورته مهال، د ولسي جرگې د بودجې او مالي کمېسيون رييس مير افغان صافي په ناسته کې وويل، پر دې سربېره چې د بودجې په مخکنې سند کې ۸۳۰۰ بستونه له تشکيله کم شوي وو، اوس ۱۳۰۰ نور هم کم شوي دي.

دغه راز نوموړي زياته کړه، د ولسمشرۍ رياست د عملياتي واحد لپاره د ۴،۳ ميلیارده افغانۍ په داسې حال کې په پام کې نيول شوې، چې دغه واحد تر اوسه د ولسي جرگې له خوا نه دی تصويب شوی.

د ولسي جرگې رييس ميررحمان رحماني د ملي بوديجې طرحه رايې ورکونې ته وړاندې کړه، چې له ۱۵ شنو کارتونو پرته د استازو د مخالفو رايو په اکثريت رد شوه.

اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۹۳,۱۰ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,۲۰ |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري

**گرافيک او ډيزاين:** ارمان


**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily





یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۸مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۷مه | ٦٦۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤ | ٢٠ | ٢٠ | ١٤ | ٢١ | ٢١ |
| ٠ | ٥ | ١ | ٦ | ٦ | ١ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰٦:۵۹ | ماسپښين ۱۲:۰٤ | مازيګر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰۵:۰۸ | ماخوستن ۰٦:۳٦

## نړۍ




کرونا او د بشریت لپاره د خطر زنګ؛

**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیون کسانو واوښت** ۳

## سعودي: په راتلونکو څو ورځو کې په قطر کې خپل سفارت بېرته پرانیزو

د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر فیصل بن فرحان وايي، چې هېواد به يې په را روانو څو ورځو کې په قطر کې خپل سفارت بېرته پرانيزي.
دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۷ز کال کې د سعودي عربستان تر څنګ متحده عرب اماراتو، بحرين او مصر د تروريزم د ملاتړ په تور له قطر سره خپلې ډيپلوماتيکې اړيکې وځنډولې. قطر چې دغه ډول تورونه رد کړي، ويلي وو چې دا اقدام يې د ملي حاکميت د کمزوري کولو لپاره شوې دی. سعودي عربستان نږدې دوې اونۍ مخکې ويلي وو چې د امريکا د متحدو ايالتونو په ملاتړ يې د عربي ټولنې د پیاوړتیا او د اختلافاتو د حل لپاره قطر ته يو هيئت لېږلی دی.
سعودي عربستان او قطر اوس د يو بل په وړاندې خپل هوايي حريمونه پرانيستي او ځينې الوتنې له سره پيل شوې دي.
د يادو هېوادونو هوايي شرکتونو په دې وروستيو کې اعلان وکړ چې رياض او دوحې ته پروازونه بيا پيلوي.
په همدې حال کې قطر له سعودي څخه پر ورتلونکو کسانو د کروناويروس له کبله يو لړ محدوديتونه لګولي دي.
قطر ته تلونکي سعوديان بايد د کروناويروس منفي نتيجه ولري، له داخلېدو سره سم به يو ځل بيا معاينه کېږي او بيا به د حکومت له لوري په مشخصو هوټلونو کې يوه اونۍ کرنتين کېږي.

## راپورونه: په امریکا کې د تحلیف مراسمو د امنیت خوندیتوب لپاره زرګونه نور پوځیان هم ګومارل کېږي



په داسې حال کې چې د نوي منتخب ولسمشر د لوړې له مراسمو مخکې زرګونه امريکايي سرتېري واشنګټن ته راغلي، ځينې چارواکي وايي واشنګټن د درېيمې نړۍ هېوادونو د پلازمېنو بڼه خپله کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې څه موده مخکې د کانګرېس پر ودانۍ د ټرمپ د يو شمېر پلويانو له بريد وروسته هلته اووه زره امريکايي سرتېري ځای پر ځای شوي دي. چارواکي وايي چې په را روانو څو ورځو کې به د پوځ او ملي ګارد ۱۸ زره نور سرتېري واشنګټن ته را ورسيږي. امريکايي رسنيو د دومره ډېرو عسکرو شمېر د هغو امريکايي عسکرو له شمېر سره پرتله کړی چې له متحدو ايالتونو د باندې په ماموريت بوخت دي. وايي د دغو ځواکونو شمېر تر هغو امريکايي ځواکونو زيات دی، چې دا مهال په افغانستان او عراق کې دېره دي. د متحدو ايالتونو د پټو خدمتونو ادارې چې د ولسمشر د امنيت ساتل يې په مسوليتونو کې راځي، په واشنګټن کې «شنه سيمه» جوړه کړې ده. په دغه ښار کې به د لوړې مراسم کېږي او ټول هغه وسايل چې دغې سيمې ته راوړل کېږي، پلټل کېږي او تالاشي کېږي به. د واشنګټن ښاروالې موريل باوزر ويلي، چې په روان وضعيت خوشاله نه ده، خو نوې ادارې ته د واک د سوله‌ييز انتقال مسووليت لري او ژمنه يې دا ده چې دا ښار به بېرته خپل عادي حالت ته راګرځوي.

## خبرنگاران: حکومت برای حفظ آزادی بیان اراده ندارد



یورش شماری از مردم بر رادیو زهره در کندز و تخریب ابزارهای این رادیو با واکنش‌های خبرنگاران و مدافعان حقوق رسانه‌ها روبه‌رو شده‌است. خبرنگاران کندز، این رویداد را زنگ خطری برای خفه شدن آزادی بیان می‌دانند.
حسیب حساس، خبرنگار در کندز بیان داشت: «ما پیش از این از گروه‌های مخالف می‌ترسیدیم و حالا از مردم خود ناراض استیم و هراس داریم.»
هدایت الله زیارمل، مسؤل رادیو کندز نیز افزود: «حمله‌یی که بر یکی از رادیوها در کندز صورت گرفت، این واقعاً ما را نسبت به کارهای رسانه‌یی نگران می‌سازد.»
درهمین حال، محسن احمدی، مسؤل رادیو زهره در حالی که یورش مردم بر این رادیو را سازمان یافته می‌داند، خواهان پی‌گیری جدی و روشن شدن چگونگی این رویداد است: «دروازهٔ پایین و بالا را شکستاندند و به داخل رادیو شدند. سیتم صدای رادیو را چک کردند، دیدند و هیچ صدای را از این رادیو دریافت نکردند.»
در همین حال، مسؤلان کمیتهٔ مصونیت خبرنگاران کندز در نشستی، این رویداد را نکوهش کردند و آن را مخالف قانون رسانه‌ها خواندند.
شهباز صابری، مسؤل کمیتهٔ مصونیت خبرنگاران در کندز اظهار داشت: «این عمل، یک عمل غیرقانونی است و هیچ‌کس نه تنها ما بل‌که علما نیز به این باور استند که این عمل نباید صورت می‌گرفت و باید از راه قانونی حل می‌شد.»
شماری از این خبرنگاران در کابل با انتقاد از رویکرد حکومت در برابر رسانه‌ها می‌گویند که حکومت برای حفظ آزادی بیان و تأمین امنیت خبرنگاران هیچ اراده یی ندارد.

## ژوند

## منفي فکر او بدبيني له څه شي سرچينه اخلي؟



منفي فکر او بدبيني معمولاً د پر ځان باور له نشتوالي، بې باورۍ، وېرې او ډېر کله له کينې څخه سرچينه اخلي او که چېرې په همغه لومړيو ورځو کې کنټرول نه شي، پر يو تلپاتې عادت بدلېږي. هغه عادت چې د شخص ټول ژوند تر اغېزې لاندې راولي او منفي فکر لرونکی کس په خپل ماحول کې د منفي ټکو د پيدا کولو په لټه کې وي او غواړي چې په هر اړخ کې يوه نيمګړتيا او عيب کشف کړي. دغه ډول کسان تل مضطرب او د وېرې په حال کې دي. هېڅ ډول دروني ارامتيا نه لري او په نا اګاهانه ډول ان په غوره مسايلو کې هم د منفي ټکو له پلټلو خوند اخلي. همدارنګه دغه ډول کسان د بدو او منفي خبرونو په رسولو او خپرولو کې مخکښ دي او غواړي چې بد او اندېښمنوونکي خبرونه تر بل هر چا مخکې د خلکو تر غوږونو ورسوي. که چېرې تاسو داسې يو حالت ته ورسېږئ چې د خپلې خوښې دنده، موټر او کور تر لاسه کړئ؛ منفي فکر لرونکي کسان به په دغو مسايلو کې يو زر او يو دليلونه درته راوړي.

## شياومي د رېډمي۹ لړۍ دوه نوي موبايلونه معرفي کړل

شياومي کمپنۍ د رېډمي۹ لړۍ دوه نوي ځيرک موبايلونه معرفي کړل، چې پر غوره ځانګړنو لرلو سربېره ارزانه او مناسبه بيه لري. دغه ځيرک موبايلونه رېډمي۹ ټي او رېډمي نوټ۹ ټي نومول شوي دي. شياومي کمپنۍ دغه له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوونکي ځيرک موبايلونه د يوې پرليکه غونډې له لارې کاروونکو ته معرفي کړل.
رېډمي نوټ۹ ټي
دغه ځيرک موبايل کې ډېمېنستي۸۰۰ ډوله پروسېسر او ٦,۵۳ انچه ابل سي ډي ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده. دغه ځيرک موبايل به ۴ ګېګابايټ رم او ٦۴ – ۱۲۸ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا ولري او کاروونکي د ميموري کارت له لارې دغه وړتيا ۲۵٦ ګېګابايټ ته لوړولی شي. رېډمي نوټ۹ ټي کې ۵۰۰۰ ملي امپيره وړتيا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۸ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره، ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکينۍ برخه کې ۱۳ مېګاپکسله وړتيا لرونکې سيلفي کامره هم لري.

